له ابو داود سره یی میرمن او دوی ځوانی لونی ښکته شوی، کشری نجلی چی انجیلا نومیده له خپلی خور نه دوه دری کاله کشره وه، د هغه گردی مخ، آبی سترگی او طلایی ویښتان کټ مټ خپلی مور ته ورته وو: د هغی په خط او خال کی د مور د ځوانی دورځونښی څرگندې وې.

دوهمه نجلی ربیعه، د انجیلا ناسکه خور وه، د ربیعی توری اوځلیدونکی سترگی انجیلا او مور ته یی ورته نه وی، هغه په قد هم تر مور او لور لږ لوړه وه، په سپینه څیره کی یی سرخی داسی ښکاریدله لکه خالق چی شیدی او شات په یوه مناسب تناسب سره گډ کړی وی او د هغی رنگ سپین خو گلابی ته مایل ؤ او په څیری کی یی د شوخی او سنجیدگی گډو کرښو هغه د ښځینه حسن او وقار یو غوره انځور گرځولی ؤ.

د ربیعی او انجیلا په څیرو کی یو معمولی ورته والی ؤ، داسی ورته والی چی محسوسیدای شوای خو بیان کیدای نه شوای. دواړه نجونی ښکلی وی، د انجیلا ښکلا د صحرایی غاټول خند اوه خو د ربیعی حیا او سنجیدگی د یوی غوټی موسکا.

د پوځی افسر په لارښوونه دوی د کلا یوی کوټی ته ننوتل او د ډوډی په میز شاوخوا په چوکیو کښیناستل.

نوکرانو ډول ډول خواړه په زرینو پتنوسونو کی راوړل او په میز ئی کتار کړل، د ابو داود په اشاره د ځوانی منصبدار هم له دوی سره په خوراك ورشریك شو. ابو داود د ډوډی په وخت کی له منصبدار نه وپوښتل: له دی ځایه به د غرناطی لومړی پهره څومره لری وی ؟

افسر ځواب ورکړ: د اتو میلو په شاوخوا کی ! خو دری میله وړاندی به تاسو د دوی د واکمنی ساحی ته ورننوزی، زه فکر کوم چی که زه د دوی افسر ته ولیکم نو هغه به له سرحد نه وړاندی ستاسو د ساتنی لپاه خلك راواستوی خو ماته والی ویلی دی چی زه ستاسو په باب چاته څه ونه وایم.

ابو داود ځواب ورکړ: والی زما په هدایت عمل کړی، زه د دوی سیمی ته د پاچا د سفیر په حیث نه د یوه مهاجر په بڼه ورځم.

افسر: زما په گومان که تاسو هغوی ته دوکه ورکول غواړی بیا خو باید ددی گاډی‌پرځای په بله لاره په اسونو یا پلی ولاړ شی، دوی پوهیږی چی

کلا کی پاتی شی، که هغه دلته ژ نو ددی کوټې په دواړو کړکیو کې به شمعې بلیږی چی زموږ سپاهیان به یی له لری لیدای شی.

او که په یوه کړکی کی شمعه بلیده معنی یی دا ده چی هغه دلته نشته او حمله هیڅ گټه نه لری. که هغه شپه تیریږی ده هم موږ به هڅه وکړو چی په یوه یا دواړو کړکیو کی زموږ سپاهیان رڼا وويني، او په حالت پوه شی، او که زموږ د کوټی دواړه کړکی بندی وی معنی یی داده چی وړاندی خطر دی او بیادیراوړاندی نه شی.

هغه ته دا هم ووایه چی که په هغه شپه یی تر نیمې شپې پوری حمله ونه کړه زموږ ټولو ژوند به په خطر کی شی. گوره له سرحد نه تر تیریدو وړاندی دا خبره چاته ونه کړی، تا به تر اوسه کوم عادي کوچوان د شاهی سپارلی مشرنه وی لیدلی خو که ته دا کار په هوښیاری وکړی ځان ته د فردیناند په دربار کی لویه کرسی خالی گوره.

«زه ستاسو ادنی غلام یم که زما بادار د غرناطی پاچا شی نو زه به د فردیناند د شاهی سپارلی د مشرتابه پرځای د هغه د دربار عادی پهره داری غوره بولم.

ابو داود ځواب ورکړ : زما له تانه همدا تمه وه، که زما د بخت ستوری وځلید نو زما په وفا دارانو کی به لومړی ستا کور روښانه وی. ته به زما د محل پهره دارنه وی بلکی زما د دربار ښکلا به وی، ته به زما د تاج غمی وی. اوس ورځه ویده شه، سهار وختی به ستا د سفر بندوبست کیږی، هغوی ته ووایه چی د کلا د ساتنی لپاره تر پنځوس تنو زیات سپاهیان نه وی.

د کوچوان د تگ نه وروسته ابو داود یو ځل بیا ټولی دروازی او کړکی پوری کړ ی او په کرسۍ کیناست تر ډیره یی له انجیلا او میریا سره خبری کولی، دری واړو ځانونه د غرناطی راتلونکی پاچا، ملکه، او شهزداگۍ بلل او په تصور کی یی د عیش او نوش په سامان او وسایلو بحث کاوه.

ربیعی له دی شیانو سره مینه نه درلوده، له کوچوان سره د ابو داود خبری کافی وی چی دا د پریشانی او اندیښنی په دریاب ډوبه کړی، دا پوهیدلی وه چی د سرحدي عقاب لپاره یو کپس جوړ شوی دی. د هغه ژوند په خطر کی دی. هغی دغه کپس ماتول او دغه خطر لری کول غوښتل د

څو ابو عبد الله په خپلو کړو پښیمانه شوی نه وی که نه نو ستا پر ځای باید همدوی پخپله چیرته پټ شی او بیا په الحمرا دپاچهی دغدارنو قبضه شی.

بدر ځواب ورکړ : یوازی له څو بااعتماده ملگرو پرته به زما د ژوند په باب هیڅوک هم خبر نه شی ، دیوه ډیر لوی هدف په خاطر زما پټ پاتی کیدل ضروری دی.

ملکی وویل : خدای «ج» دی مل او مرستندوی اوسه .

* * * * *

(۵)

انجیلا تر اوسه پوری چوپه وه او بدر بن مغیره ته یی کتل ، دبدر وروستی خبری په وارخطایی یو گام ور وړاندی شوه ویې ویل : ربیعی ته چرت مه وهه، دهغی دلته راتگ مشکل ؤ .

دابو عبد الله میرمن وویل : مور دانجیلا احسانمن یو چی پر وخت یی خبر کړو.

دبدر په شونډو هم یوه دمننی موسکا خپره شوه ویی ویل : انجیلا ! ستا ډاکتر به خامخا له مانه ستا پوښتنه کوی ، که هغه ته څه پیغام وراستوی زه دقاصد دندې سرته رسولو ته تیار یم .

دیوی شیبی لپاره دانجیلا تولی وینه په غومبوریو کی را ټوله شوه ، دې سمڅی ته له راتنوتلو وروسته یی تر ټولو لویه هیله دا وه چی کاشکې دبشیر بن حسن په باب یی څه ویلی شوای.

ددې له بدر نه دهغه دیادولو هیله نه وه ، او دې دا هم احساسوله چی دموقع په موندلو به هم ددې ژبه دزړه له ترجمانی نه ناتوانه وی . خو لکه بدر چی دی ته دجنت ترلی دروازی پرانستی وی دی ورته وویل : دهغه پر ما زیات احسان دی زما له طرفه دا دسمال ورکړه ، انجیلا بیا په نه زړه وروړاندی شوه او یو وړوکی سور دسمال یی دبدر په لاس کی ورکړ ، بیبیانی دخپل ښځینه ذکاوت په وجه په دیر څه وپوهیدی ځکه خو هغوی چوپی شوی .

دلوی کوتوال په مشوره بدر په هغه تخته ځملاست چی د لاش دپورته کولو لپاره په کوټه کی وه ، هغه یی په یوه توکر کی پټ کړ.

دزندان وړوکی کوتوال دروازه خلاصه کړه ، درې واړه ښځې بهرته ووتی ، پهره

کری ژ چی زه دغرناطی تر تولو لوی غدار یم .

حسن پریشانه شو ویی ویل : ته زما آغایی !

طریف: نه ! زه پوهیږم ستا مجبوری تا دزره خبری کولو ته نه پریږدی ، ته دژوند په ترخو لارو هم له ماسره په ملگری مجبوروی ، خو که زه سرله نن نه سمه لاره غوره کرم نو ته به دڅان په باب څه فرق احساس کړی ؟

حسن زړه نا زړه وویل : زما باداره ! دضمیر تر بوج لاندی او دضمیر دبوج نه آزاد په ژوند کې ډیر توپیر دی .

طریف: حسنه! نصرانیان زموږ ډیر بد غلیمان دی .

حسن: باداره: که دا گستاخی نه وی نوزه خو وایم چی موږ پخپله له ځان سره دښمنی کړی ده.

یو سړی چې دځان قاتل ومنو بیا له هغه نه دا غوښتنه نشو کولی چی ته موږ په دی ډول مه وژنه ، او زموږ حالت دادی چی خپل لاس او پښی مو وتړل او ددښمن په مخکی وډریدو او موږ خپل خنجر هم ددوی په لاس ورکړی دی . اوس ددوی خوښه ده چی ورو ورو مو وژنی که مو یو ځل شاه رگ غوڅوی.

طریف احساساتی شو ویی ویل : نه زموږ خنجر تر اوسه زموږ په خپلو لاسونو کی دی موږ به جنگیږو که دعزت ژوند نه وی دعزت دمرگ لاره مو پر مخ نه ده بنده شوی.

حسن: خدای«ج» دې تاته همت درکړی ، خو زه ویریږم چې ابو عبد الله به دې ملاتړ ونه کړی.

طریف: هغه زموږ په ملاتړ مجبور دی.

لږ ځند وروسته طریف ځك شو ویی ویل : په موږ پسې څوك راځی دطریف په اشاره دده ملگرو اسونه ودرول ، له شانه په یوه فاصله داسونو دچارگام زغاستی غږ اوریدل کیده حسن وویل : دا به هماغه سپاهیان وی چی دسرای په دروازه کی ورسره مخامخ شوو ، دسرای خاوند به دځان بچ کولو په خاطر ورته ویلی وي چې دهغو دوو نصرانی افسرانو قاتل څوك دی ، تا هم دسرای له مالك نه خپل راز پټ ونه ساته هغوی اوس په موږ پسې راوتلی دی.

طریف وویل : دوی له پخوا نه په موږ پسې دې له لوښه نه دراوتلو نه وروسته ما په لاره کی دوه درې ځلې ولیدل ، تاسو ټول یوې خواته شی او دونو شاته

له محکمې نه به د انجيلا ګناه پته شي. کاشکې تا په لومړي ورځ انجيلا د محکمې له تګ نه نه واى راګرځولې، هغه وخت چاته دا نه وه معلومه شوې چې دا مسلمانه شوې ده ستا سره ددې پوره ثبوت ؤ چې مايکل ستاسو کورته په بد نيت ننوتلى ؤ. که ستا حماقت نه واى نو اوس به ددې دوسيې پريکړه بلکل بدله واى. خلکو به دا ګڼله چې انجيلا يوه عيسوي نجلۍ ده، پاچا او ملکې به هم دا جرئت نشو کولى چې ووايي چې هغې د خپل عزت د ساتلو لپاره څه کړي دي بايد سزا پرې ورکړ شي. اوس هغوى دواړه بندي دي، او تاته يې دا انعام درکړ چې والي د بيهوشۍ په حالت کې له محل نه راوايستلې او په دې کنډواله کې يې وغورځولې.

د ميريا په وچو سترګو کې اوښکې راډنډ شوې. وروراندې شوه او د پادري په پښو کې ولويده ويې ويل: سپيڅلې پلاره په ما رحم وکړه، انجيلا وژغوره! د خداى په خاطر انجيلا وژغوره زما باور نه راځي چې مايکل به دې وژلى وي. خو که دې وژلى وي هم بې ګناه ده، انجيلا چې څه کړي دخپل عزت د ساتنې په خاطر يې کړي دي.

پرلوقس د ميريا اوښکو اغيزه ونه کړه، يو ګام شاته ولاړ ويې ويل:

بې عقله ښځې اوس ژړا څه ګټه لري انجيلا پر دې قتل برسيره بې ګناه ثابتيداى شواى. خو اوس ستا د بې عقلۍ په وجه پر هغې له وژنې نه لوى تورونه لګيدلي دي. د کليسا سپکاوى له خپل مذهب نه کرکه او له حکومت نه بغاوت دا يوهم معمولي تورونه نه دي اوس ددې ژوند ژغورل زما په وس کې نشته.

ميريا جګه شوه د لوقس لمن يې ونيوله ويې ويل: نه نه ! ته ډير څه کولى شې، ته د لوشه د کليسا مشرېې،

لوقس: له نن نه وروسته زه د لوشه د کليسا مشر نه يم ماپرون د والي د خوښې سره سم له بيان ورکولونه انکار وکړ او له دې سره سم مې لوى پاپ ته خپله استعفى استولې ده، بيا هم ما د ربيعى او انجيلا په باب خپل فرض پوره کړى، ما محکمې ته خپل ليکلى بيان استولى دى، ما دا ليکلي چې د انجيلا په اړه د جان مايکل نيت څومره شرمناك ؤ. په خپل بيان کې مې ددې ثابتولو هڅه کړې چې انجيلا د جان مايکل په وژلو کې حق په

بدر : او ددی خوب د وروستی برخی تعبیر که واوری نو حیران به شی.
بشیر په موسکا وویل: ماته یی د وروستی برخی تعبیر هم معلوم دی.
بدر: بنه ده ووایه!
بشیر: ته له ربیعی سره واده کوی.
بدر: نو څه وخت؟
بشیر:نن!
بدر: مگر دا خبری تاته څه ډول معلومې شوې. تاته به الجیلا ویلی وی او هغی به له ربیعی نه اوریدلی وی!
بشیر: نه بدره! ستا خیره ماته د یوه کتاب په څیر ده ته تولی نری ته یوه معما یی خو ماته نه یی، اوس ووایم ماته داخبری ولی معلومی شوی؟
بدر: ووایه!
بشیر: له ربیعی سره تر ملاقات وروسته چی ته د پریشانی په حالت کی ماته راغلی نو زه وپوهیدم چی تاخپله پریکړه بدله کړی. او تا چی وویل چی د غرناطی په باب کوم نوی خبر می د پریشانی سبب نه دی نو زما گومان نور هم په یقین بدل شو. له دی نه پرته که کومه بله سیاسی او یا پوځی خبره وای نو تا به زما پر ځای د منصور لتهون کاوه او یا به د شوری راغوښته، له دی وروسته چی تا وویل چی ربیعه به همدلته اوسی نو وپوهیدم چی زموږ شاهین اوس په خپله ځاله کی یوازی اوسیدل نه غواړی.
بدر: تاته ددی څه پته ولگیده چی زه همدا نن واده کوم؟
ستا په څیره دالیکل شوی چی تا مهمه پریکړه کړی ده، او ستا مهمی پریکړی زرترزره نافذیږی.
بدر: ستا مطلب دا دی چی زه عجول یم!
بشیر: نه زه د یوه سپاهی د غوره صفت یادونه او ستاینه کوم.
عام مرغه چی څومره څنډ وروسته الوزی، شاهین هومره گړندی خپلړدوره کړی وی او بیرته راستون شوی وی. کله چی تا دا پریکړه وکړه چی ربیعه به دلته پاتې کیږی نو د واده سبا ته ځنډولو سوال نه پیدا کیږی.
بدر وویل: ښه فرض کړه چی زه همدا نن واده کوم.
بشیر وخندل ویی ویل: ماته د فرض کولو ضرورت نشته زه پوهیږم.

